

میرویس او وږمه سهار وختي ښوونځی
ته روان وو- دوی چې سړک ته ورسېدل
نو څۀ ګوري چې نن د نور کله نه زیات
ګاډي ولاړي وې- د ټریفک پولیس او
ډېر خلک راغونډ وو- وږمه وارخطا
شوه- میرویس ته ئې ووئیل، وروره! دا
نن څۀ چل دې؟ زۀ خو وېرېږم، راځه چې
کورته بېرته ولاړ شو-



دغه وخت د دوئ مس ستاره هم راورسېده- هغې وئيل، اسلام علېکم کوشنيانو! تاسو څنګه ياست؟ دواړو ورته ووئيل وعليکم السلام مس جي! موږ ښۀ يو- مس دواړه تر لاسه ونيول او د سړک نه ئې پورې ايستل- ورمې د مس نه پوښتنه وکړه چې مس دا څۀ چل شوی ۆ چې دومره ډېر موټران او اېمبولينس ولاړ دي-




مس ورته ووئیل! یو هلک پر موټر سائیکل ډېر تېز روان ؤ- د ټریفک په اشاره و نۀ درېدو نو د مخ له خوا راتلونکي موټر سره وجنګېدو- ورږمې ووئیل، وائی خدایه! هلک بچ دی کۀ نه؟



مس ووئیل! چې کله سړک نه اوړی
نو زیبرا کراسنګ باندې تګ کوئ-
(زیبراکراسنګ هغه سپین او تور لائن ته
وئیل کیږي چې پر سړک جوړ شوی وي
او لارویان باندې تیریږي) اول ښي او
بیا کیڼ اړخ ته ګورئ چې موټران ولاړ
وي نو بیا د سړک بل اړخ ته اوړی-



ورېمې پوښتنه وکړه، مس دا خو د هغه
چا د پاره ضروري ده چې په پښو تګ
کوي- دا کوم خلګ چې په موټرکښې
وي نو هغوی له څۀ پکار دي چې
جنګېدلو څخه بچ شي-



مس ووئیل، ډرائیور له پکار دي چې ډېر تېز موټر نهٔ چلوي- په خپل لاس دې ځي- د ټریفک په سره بتۍ دې ودرېږي او په شنه بتۍ دې روانېږي- بې ضرورته دې هارن نهٔ وهي-



میرویس ووئیل، مس چې زهٔ لوی شم
او موټر چلوم، نو هم دا خبري به یاد
ساتم او عمل به په کوم- مس ستاره
ووئیل، شابس بچیانو! دا ښهٔ خبره ده-
یو خوا په قانون عمل دی، بل خوا د
خپل ځان او نورو ژغورنه ده-

# بګ بکس

## د اول جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځۀ کلن پروګرام دی چې ، د بین الاقوامي ترقۍ د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- ددې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاونٍ سره طالبعلمانو کښې د لوستلو مهارتونه ښۀ کول دی-دې پراجېکټ په 2013ء کښې د لوستلو مواد جوړول پېل کړي وو- تقریباً پینځلس زره استاذانو د اول جماعت ماشومانو ته ددې موادو ښوونه وکړه- استاذانو ته د تربیت ورکولو په وخت د ښودنې په نوؤ تجربو یا د موادو په حواله چې کومې ستونزې مخې ته راتلې نو پي- آر- پي د هغې ډېر په غور سره تجزیه کوله - دې سره سره پي -ار- پي د صوبائي او علاقائي تکنیکي ټولګې د غبرګاوي (Feedback) او د پراجېکټ په مینځني دور کښې د هغو رپورټونو تجزیه هم وکړه، کوم چې د طالبعلمانو د لوستلو مهارتونو په حواله تیار کړي شوي وو- ددې ټولو نتیجو په بنیاد ، پي -ار- پي د پښتو د لوست د ښودنې مواد هم تیار کړو. دا مواد به په شل سکولونو کښې استعمالیږي-

بګ بکس هم ددې ښودنې د موادو یو اهمه برخه ده- چې د اول جماعت د پاره لیکلې شوي دي-

استاذان به روزانه د دې کتاب په اوچت اواز د لوستلو مشق کوي- یو بک بګ به په یوه هفته کښې لوستلی شي- د هر بګ بک په شاتني مخ د ماشومانود لوست او تفهیم مهارتونو د ودې د پاره سوالونه او سرګرمۍ ورکړې شوي دي- په اوچت اواز د لوستلو په وخت مختلف اصول په نظر کښې ساتلي شوي دي مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپۍ د پاره واضحه تصویري خاکې وړاندې کول وغېره-

امید لرو چې ددې محنت او کوشش په نتیجه کښې استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي، علم الاصوات، دالفاظو ذخیرې ،د لوستلو رواني او سوچ کولو ته عملي جامه واغوندوي- خصوصاً دا بګ بک به د سکول د لائبریرۍ برخه وي چې راتلونکي ماشومان هم ددې نه فایدې واخلي او پښتو لوستلو کښې د دلچسپۍ دا سلسله روانه په روانه پاتې شي-

مونږ دا امید کوو چې د پاکستان ریډنګ پراجېکټ دا کوشش په پرائمري سکولونو کښې د ماشومانو د لوست معیار ښۀ کولو کښې مددګار ثابت شي.

پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کړې دا مواد تیار کړی دی:

- ټي ائي جي ماډیولز
- ویډیوز
- بګ بکس
- سبقي منصوبې
- ورک بکس
- فلیش کارډونه
- د ارکانو/ هجو چارټونه
- د زبر، زېر، پېښ چارټونه

د چپائي په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوی دی- بیا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به موږ ستاسو مننه کوؤ-

# د ښوونکو د پاره لار ښوونه

## لومړی ورځ (خبري اتري، پېشن ګوئي او زاړه معلومات)

### تر لوست مخکښې

- کوشنیانو ته د قصې سرپاڼه ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ۔
- تاسو ته په دې عکس کښې څۀ څۀ ښکاري؟
- دا څۀ شوي دي؟

### د لوست په مینځ کښې

- د لومړی مخ عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ چې کوشنیان چرته روان دي؟
- د څلورم مخ عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ چې خلګ څۀ کوي؟

### تر لوست وروسته

- د دې قصه د کردارونو نومونه ورښکاره کړئ ؟
- کوشنیانو نه پوښتنه وکړئ کۀ چرې موټرسائېکل تاسو چلولو نه څۀ به مو کول؟

## دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

- اوس زۀ ستاسو په مخکښې څو ټکي لولم تاسو د هغو له ږغونو سره لاسونه وپړکوئ۔
- یو ږغ لرونکي ټکي: کېن-/ کېن/-
  ټکي: موږ، نن، مس، اړخ، ټګ-
- دوه ږغ لرونکي ټکي: وږمه- /وږ/مه-
  ټکي: سهار، وختې، سړک، ګوري، راځه-

## درېیمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست مخکښې

- د سرپاڼي په عکس کښې "موټرسائېکل" ته اشاره وکړئ او پوښتنه وکړئ:
- ستاسو په ژبه کښې "موټرسائېکل" ته څۀ وائي؟

### د لوست په مینځ کښې

- په لومړی مخ د "د ایمبولېنس" عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ:
- تاسو "ایمبولېنس" ته څۀ وائي؟
- په درېیم مخ جمله "وائی خدآیه! هلک بچ دی کۀ نه؟" د تاثراتو او د لب ولهجې د کښته پورته والي سره ادا کړئ- او ماشومان نه دهغوئ په ژبه کښې دا جمله واوروئ-
- په پنځم مخ "زېبراکراسنګ" وښایئ او پوښتنه وکړئ تاسو دی ته څۀ وایئ؟

## څلورمه ورځ (د چپائي تصورات)

### تر لوست مخکښې

کوشنیانو ته ووایاست چې اوس به موږ قصه لوستل پېل کوو- د کتاب مخ او شا ورښکاره کړئ- د سرپاڼي، د قصه نوم، لیکوال/ لیکواله، د عکسونو جوړونکی/ جوړونکې نومونه ولولئ او په نخښۀ کړئ-

### د لوست په مینځ کښې

- د کتاب لومړی مخ راواړوئ او پوښتنه وکړئ چې قصه به د کوم اړخ نه پېل کوو ؟
- د لومړی مخ عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ ؟ تاسو ته په دې کښې څۀ ښکاري؟

### تر لوست وروسته

- په شپږم مخ دمه واخلئ او پوښتنه وکړئ، ددې مخ نمبر څۀ دی؟-
- پوښتنه وکړئ چې د دې مخ په لومړی ټکي باندې ګوته کښېږدئ او ورښکاره کړئ-

## پنځمه ورځ (ذخیره الفاظ، محاورې)

### د لوست په مینځ کښې

- په لومړی مخ جمله "وږمه وار خطا شوه" ولولئ او د "وارخطا" مطلب په جمله کښې واضح کړئ- مثلاً "ما چې ناڅاپا سپی ولیدو نو وارخطا شوم"- په کوشنیانو په ټکي "وراخطا" جملې جوړې کړئ-
- په پنځم مخ جمله "زېبرا کراسنګ باندې ټګ کوئ" کوشنیانو ته د "زېبرا کراسنګ" وضاحت وکړئ- لکه: زۀ همېشه د سړک پورې وتو کښې د زېبرا کراسنګ استعمال کوم- اوس په کوشنیانو وار په وار جملې جوړې کړئ-

## شپږمه ورځ (خبري اتري، ذاتي ژوند سره تعلق)

### تر لوست مخکښې

- دا قصه د څۀ په هکله ده؟
- په دې قصه کښې کوم کوم کردارونه دي؟

### د لوست په مینځ کښې

- وږمې میرویس ته ولې ووئیل! راځه چې کورته واپس لاړ شو؟
- کۀ هلک په سره بتۍ ودرېدلی ؤ نو بیا به څۀ وو؟-

### تر لوست وروسته

- تاسو چې په سړک اوړئ نو د کومو خبرو خیال ساتئ؟
- موږ د ټرېفک د اصولو خیال څله ساتو؟
- که تاسو د وږمې له ځائ و نو تاسو به څۀ کول؟
- تاسو د ټرېفک بتۍ لیدلي دي کۀ نه؟
- د ټرېفک څو بتۍ دي؟ او کومې کومې دي؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلقو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو ایس ایډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس ایډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-